مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۶/۱۰/۰۲

# فولکلور او د ولسي ادب پانګه

هره ټولنه خپل لرغوني او دوديز ارزښتونه او باورونه لري، چې د تاريخ له تکاملي بهير سره هممهال لړ يا ډېر بدلون مومي، نوي کيږي او د ټولنيز ژوند له لوښيو سره سم بدايږي. اداب، دودونه، افساني، اسطوري، افکار، سندرې و ترانې، متلونه، هنرونه او ان طبي تجربې و درملنې، سينګار او انګېرنې په دغو ارزښتونو کې راځي، چې په پراخه مفهوم فولکلور يا ولسپوهه نومول شوې ده. پښتانه هم د نړۍ د هر بل لرغوني ولس په توګه د ولسپوهې يوه خورا بډايه خزانه لري، چې نن به يې پر ارزښت و پېژندنه تم شو.

بورا به خدای په ګلو موړ کړي
باغوانه ستا نيمګړې نيت مې خوروينه

پاس په کمره ولاړه ګله
نصيب د چا يې اوبه زه درخېژومه

***

ژرنده که د پلار ده هم په وار ده

خپله ژبه هم کلا ده هم بلا

چې اوره والوځي، مېلمه راځي. په مساپر پسې انګړ مه جارو کوئ، بد شګوم لري...
دا ټول د ولسپوهې يا فولکور اجزا او عناصر دي.

پخوا فولکور په ډېره پراخه مانا کارېده، روسته چې د ټولنيز ژوند ځه برخې د نويو پوهنو په قلمرو کې راغلې او د بشرپېژندنې، اسطوره پوهنې او دوديزې درملنې غوندې ځانګې خپلواکې شوې، نو فولکلور ولسي ادبياتو، انګېرنو، جشنونو، دودونو او ولسي باورونو ته راټول شو. په افغانستان کې دېرځله ولسي يا شفاهي ادبيات له فولکلور سره په مترادفه مانا پېژندل کيږي، حال دا چې ولسي ادبيات د فولکلور يوه مهمه برخه ده.

د ولسي ادبياتو فولکلوريکه پانګه، چې په ټوله پښتونمېشتې جغرافيه کې په لړ و ډېر توپير شته او له پېړيو پېړيو ځخه يې ولس له يوه نسل ځخه بل ته سينه په سينه رانقلوي.

کانديد اکاډميسين محمد صديق روهي ولسي ادبيات په لوی سر کې په منظومو او منثورو برخو ويشلي، په منظومه برخه کې يې عامي سندرې لکه لندۍ، سروکې، د اتڼ نارې، د ماشومانو سندرې، کيسې ، منظوم متلونه، غاړې، ساندې او نورې داسې شمارلې، په خاصو سندرو کې يې چاربيتې، بدلې، غږونه، د مروتو کسرونه، بګتۍ، لوبې، داستان (بدله) مقام (رباعي) او ازاد ولسي شعرونه ګڼلي دي.

په منثورو ولسي ادبياتو کې يې متلونه، نکلونه، وړې کيسې، ټوکې، بولنې، تکيه کلامونه، روايات، دعاوې و ښېراوې او داسې نور شامل ګڼلي دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

فولکلور څېړني او راټولوني ته د شلمي پېړی په دويمه نيمايي کي پاملرنه زياته شوه، په پښتونخوا او کابل کي  په دې اړه فرهنګي، اکاډېميکو او څېړنيزو ادارو ته مسئوليتونه وسپارل شول،  د فولکلور په تيوري، ميتودولوژي او د راټولوني، تصنيف او خوندي کولو کار وشو. اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، علومو اکاډمی، ، پېښور پښتو اکاډمۍ  او پوهنتونونو په دې برخه کي ځانګړې خپروني خپرې کړې،  خو د دغي برخي پوهانو تل ټينګار کړی، چي د پښتني فولکلور شتمني دومره زياته  او لمن يې  دومره پراخه ده، چي خوندي کول يې ډېر کار او وخت غواړي.

فولکلور څنګه پېژنو؟ د ولسي ادبياتو برخه په کي څومره ده؟ لاتراوسه د ولسي ادبياتو د تدوين لپاره څه شوي دي؟ که د ولس دغې ګډې او مهمي شتمنی ته پام ونه‌شي نو څه به له لاسه ووځي؟

دا خورا مهمي پوښتني دي، چي نن سبا د بدليدونکې نړۍ په چټک اوښتون کي د پښتني فولکلور په وړاندې رامخته کيږي. نړۍ د برېښنايي (ډيجيټل) ژوند په خوا راوانه ده، کتابتونونو او ارشيفونو خپل ځای ګرځنده برېښنايي کتابتونونو ته ورکړی. د عصري ژوند وړانګې داسې راخپرې دي، چي د ولسي فرهنګ دوديز او لرغوني ارزښتونه کمرنګولای شي، په تېره بيا په هغو ټولنو کي چي دغه ارزښتونه له دولتي ملاتړه محروم وي.

که څه هم د افغانستان خلک د خپلو ولسي – فرهنګي ارزښتونو ساتونکي دي، خو په دې برخي کي ځانګړي ملي بنسټونه او حکومتونه هم خپل مسئوليت لري، چي ښايي ترسره يې کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیږلو مخکي په ځير و لولئ